# شيطان هغو خوړو ته لار مومي چې د الله نوم پرې وانه خیستل شي

له حذيفة رضی الله عنه څخه روايت دی چې ويلي چې: مونږ به کله چې د نبي صلی الله علیه وسلم سره په خوړو کې ګډون کاوه، نو تر هغه به مو خوړو ته لاس نه نږدې کاوه تر څو به چې رسول الله ﷺ پیل نه و کړی، نو یوه ورځ مو ورسره په خوراک کې ګډون کاوه، نو ګورو چې یوه وینځه داسې راغله لکه څوک یې چې ټېل وهي، غوښتل یې چې خوړو ته لاس اوږد کړي، نو رسول الله ﷺ یې لاس ونیو، بیا یو بانډچي راغی هغه هم داسې و لکه څوک یې چې ټېل وهي، نو د هغه لاس یې هم ونیو، نو رسول الله ﷺ وفرمایل: « شیطان هغو خوړو ته لار مومي چې د الله نوم پرې وانه خیستل شي، هغه دا وینځه راوستله چې له امله یې خوړو ته لاسرسی ولري، نو ما یې لاس ونیو؛ بیا یې دا بانډچي راوست تر څو خوړو ته لاسرسی ومومي، نو ما یې لاس ونیو، قسم په هغه ذات چې زما نفس د هغه په لاس کې دی، د شیطان لاس زما په لاس کې د دوی له لاسونو سره یو ځای دی.

[صحیح] [مسلم روایت کړی]

حذيفة بن اليمان رضی الله عنه يادونه کوي چې کله به دوی د نبي صلی الله علیه وسلم سره په خوړو کې ګډون کاوه نو خپل لاسونه به یې تر هغه خوړو ته نه اوږدول چې رسول الله ﷺ به پیل نه و کړی، نو یو ځل ورسره ناست وو، یوه وینځه په ډېرې بیړې داسې راغله لکه څوک یې چې ټېل وهي، غوښتل یې لاس په خوړو کې ښکته کړي، نو رسول الله ﷺ یې لاس ونیو، بیا یو بانډچي هم همداسې راغی، نو مخکې له دې چې خوړو ته لاس تېر کړي، د هغه لاس یې هم ونیو، نو رسول الله ﷺ وفرمایل: شیطان کولی شي هغه مهال خوړو ته لاسرسی ولري چې انسان د الله د نوم له یادولو پرته پیل وکړي، هغه دا وینځه راولېږله چې له هغې سره خوړل ځان ته روا کړي، نو ما یې لاس ونیو؛ بیا یې دا بدوي (بانډچي) راولېږه چې خوړو ته لار ومومي، نو ما یې لاس ونیو، قسم په هغه ذات چې زما نفس د هغه په لاس کې دی، د شیطان لاس زما په لاس کې د هغې له لاس سره یو ځای و، بیا یې د الله نوم واخیست او خوراک یې وکړ.

https://sunnah.global/hadeeth/ps/show/3507